# د ايلبني ښار

## د پوليس د کار د بياکتنې لپاره د ښاريانو مجلس



**ښاري لپاره د شکايت**

**د پروسې لارښود**

**ليدنې**

سي پي آر بي د خپل کار لپاره په مياشت يو ځل ليدنه کوي. د مجلس د مهالوېش يو نقل کولای شئ د قانون دولتي مرکز يا د سي پي آی بي له وېب سايټ يې ترلاسه کړئ.

**د مسوولیتونو بیان**

د سي پي آر بي مسووليت دی چې وګوري د ستاسې پر شکايت په سمه توګه غور شوی و. کله سي پي آر بي د ستاسې د شکايت ارزونه کوي، هغوی د ايلبني پوليس رياست پلټنو باندې نظر اچوي، او پرېکړه کوي آيا د ايلني پوليس رياست خپل کار مکمل او په مسلکي توګه کړی و. سي پي آر بي پرېکړه نشي کولای چې څوک په حقه و او څوک په ناحقه. دوی د ستاسې د شکايت پلټنه نشي کولای؛ دوی دا پرېکړه نشي کولای چې د ستاسې په شکايت کې ليکلې پېښې شوې وې يا نه وې شوې؛ دا افسرانو ته تاديبي جزاوې نشي ورکولای.

د سي پي آر بي کار دا کتل دي چې آيا د ايلبني پوليس رياست دا شکايت په سمه توګه پلټلی و. ښايي کله کله سي پي آر بي د ايلبني پوليس رياست سره موافق نه وي، خو د دوی په وس پوره دا خبره دی چې آيا پوليس په سمه توګه د شکايت پلټنه کړې ده.

د پوليس د کار د بياکتنې لپاره د ښاريانو مجلس
لخوا د د ايلبني د قانون ښوونځی
80 نوی سکاټلېنډ ايونيو
ايلبني، نيويارک 12208-3494
5184452329
فېکس 5184452303
www.albanylaw.edu/cprb

**که تاسو دې غوښتنليک ته آنلاين لاس رسی کول غواړئ، لطفاً دې ويب پاڼې ته لاړ شئ**
**www.albanyny.gov/languageaccess**

**ثالثي: يو بديل**

که چې تاسې يو شکايت داخل کړئ، نو تاسې انتخاب لرئ چې د سي پي آی بي د ثالثۍ د پروسې په پروګرام کې برخه واخلئ. د ثالثۍ پروسه شکايت کوونکي ته فرصت ورکوي چې خپلې ستونزې تورن شوي افسر سره د مخامخ ليدنې له لارې هوارې کړي. په دې ليدنه کې يو غېر جانبدار فريق موجود وي تر فريقونو سره د خپلې ستونزې يوه متفق حل ته رسېدو کې مرسته وکړي. ثالثي د بياکتنې د پروسې په ترځ کې دواړو فريقونو لخوا هر وخت پيل کېدلای شي، خو پر دې بايد دواړه فريقونه يعني شکايت کوونکی او افسر راضي او د ايلبني پوليس د بخش رضا هم اخستل شوې وي. سي پي آی بي کولای شي په مناسبو کېسونو کې د ثالثۍ سپارښتنه ورکړي. چې يو ځل د ثالثۍ پروسه پيل شي، نو پر شکايت پلټنه ودرول شي.


**ټولنې سره تماس**

د پوليس رياست او د ټولنې په منځ کې د اړيکو د ښه کولو په هڅه، سي پي آی بي يو دوام لرونکې پروګرام پر مخ وړي تر څو خلکو ته د دغه بورډ يعني مجلس او د شکايت د پروسې په اړه پوهه ورکړي. د سي پي آی بي په اړه نورو معلوماتو لپاره يا زموږ لخوا د ستاسې په سازمان کې د درس ورکولو لپاره، مهرباني وکړئ په 5184452329 موږ سره تماس ونيسئ.

**د مجلس غړي**

د سي پي آی بي نهه غړي د مېير يا د کامن کونسل لخوا دغه کار لپاره ټکه ګمارل شوي وي چې دوی د انصاف، درناوي او مسووليت نوم ګټلی ، او عامه چارو او خدمتونو سره خپله علاقه او پکې فعاليت ښودلی.

هر يو غړی ته د پام وړ روزنه ورکړل شوی تر څو د خلکو لخوا د پوليس افسرانو پر ضد د شکايتونو بياکتنه ترسره کړي او ښاروال او کامن کونسل ته د پوليس د تګلارو او کارلارو په اړه د پوليس د کار سره اړوند سپارښتنې ورکړي.



**ما ته به څرنګه معلومېږي چې سي پي آر بي ته زما شکايت ترلاسه شوی دی؟**

تاسې سره سي پي آر بي تماس ونيسي او خبر به مو کړي چې مجلس د ستاسې د شکايت بياکتنه کوي.

**حتمي پرېکړه څوک کوي؟**

د پوليسو چيف به د رياست ابتدايي رپورټ او د سي پي آر بي د موندنو په رڼا کې د معاملې بياکتنه کوي او حتمي پرېکړه به کوي چې په اړه به تاسې، اړونده پوليس افسر/افسرانو، او مجلس ته خبر ورکړي.

**د شکايت فورمه چېرې ترلاسه کولای شم؟**

- د اېلبنې د ټولنې د پرمختيا اداره*
- د اېلبنې د دولتي کورونو د مديريت اداره - اداري ودانۍ*)
- مرکزي ولسوالۍ کې د ګې او لزبين کميونټي کونسل*
- د قانون & انصاف مرکز*
- د ملکي ازاديو لپاره د نيويارک اتحاديه - د مرکزي سيمې څېړګې*
- مرکزي سيمه کې سل تور پوستي سري (ون هنډرډ بلېک مېن)*
- اېلبنې کې له هر يوې پوليس حوزې (تاڼې)
- اېلبنې کې د قانون د ښوونځي په دولتي قانوني مرکز کې
- اېلبنې های سکول
- د اېلبنې دولتي پوهنتون

**څوک د فورمې په ډکولو کې مرسته درکولای شي؟**

پاس سازمانونو کې چې کوم سره وروکې ستوری ليکل شوی، هغوی ژمنه کړې چې شکايت کوونکو سره به د شکايت د فورمې په ډکولو کې مرسته کوي.

**ما ته به څرنګه معلومېږي چې سي پي آر بي ته زما شکايت ترلاسه شوی دی؟**

تاسې ته به د مجلس لخوا يو ډاګې ليک ترلاسه شي چې پکې به خبر وي چې د ستاسې شکايت ترلاسه شوی دی.

**د شکايت داخلولو نه وروسته څه کېږي؟**

د اېلبنې د پوليس رياست يو بخش چې د مسلکي چلند د معيارونو دفتر (Office of Professional Standards يا او پي ايس) نومېږي، به لاندې کارونه وکړي:

- د شکايت په اړه به سمدستي پلټنه وکړي؛ او
- او سي پي آر بي ته به د پلټنې پايلې ورکړي تر څو بياکتنه يې وشي.

سي پي آر بي به دا کارونه وکړي:

- د ستاسې د شکايت د يو نقل بياکتنه به وکړي؛
- که تر جدي حده ناروا چلند شوی وي نو د او پي ايس پر پلټنه د نظر ساتلو لپاره يو خپلواک څارونکی ګمارل.
- د او پي ايس د پلټنو د پايلو بياکتنه کول؛ او:
- او خپلې پايلې ترتيبول او تاسې، د پوليسو مشر، او اغېزمن شوی/شويو افسر/افسرانو ته يې لېږل؛
- خواست چې او پي ايس بايد د شکايت اضافي پلټنه ترسره کړي؛
- د پوليس له چيف (مشر) د کېس په اړه ځانګړې معلومات ترلاسه کول؛ يا
- شکايت ثالثۍ لپاره ورکول.

**د پوليس د کار د بياکتنې لپاره د ښاريانو مجلس څه شی دی؟**

د سي پي آر بي هدفونه د پوليس رياست او د ټولنې په منځ کې د اړيکې ښه کول، د پوليس د مسووليت او د باورتيا زياتول، او د شکايتونو د ارزونې يوه داسې پروسه جوړول دي چې له تعصب پاکه او د پوليس له کارلارو باخبره وي. د اېلبنې د ښار د پوليس رياست (اې پي ډي) کې پوليس افسرانو لخوا د ناروا چلند پر ضد د ښاريانو لخوا د درج شويو شکايتونو او اړونده پلټنو د تعقيب په حواله د څرګندونو او بياکتنو د اختيار سره سره، د مجلس نهه غړي کولای شي چې ښاروال او کامن کونسل ته ټولنې ته د پوليسي خدمت او د پوليس افسرانو لخوا د اختياري زور ځواک د کارونې په حواله د اړوندو پوليسي تګلارو او کارلارو په اړه سپارښتنې ورکړي.

**شکايت څرنګه داخلولای شم؟**

- *کولای شئ پېښه په ليک کې بيانولای او استولای شئ.* مهرباني وکړئ باوري کړئ چې په ليک کې خپل نوم، ادرس، ټيليفون شمېره او تر خپله وسه د پېښې په اړه هر ممکن معلومات ورکړئ.

- *د ښاري شکايت فورمه ډکولای شئ.* تاسې کولای شئ چې د نيويارک پوليس رياست يا سي پي آر بي سره د ډاګ له لارې يا په خپله راتللو سره شکايت داخل کړئ.
  اړينه ده چې د شکايت پر فورمه شکايت کوونکې/کوونکې په خپله لاسليک وکړي او بيا کېدلای شي چې شکايت فورمه د سي پي آر بي دفتر يا د اېلبنې يوې پوليس حوزې (تاڼې) ته وروړل شي.



